پوهنمل حاجی محمد نوزادی ۲۰۰۸/۱۱/۰۱م

# د کوه نورالماس له کومه راغی او چیرته ولاړ ؟

( دریمه برخه )

د کوه نورسره په افغانستان کی څه پیښ شول ؟

پدی توګه دایران تر پیښو وروسته احمد خان دکوه نور او د یو مقدار نورو جواهراتو په بدرګه دخپلو جنګیالیو سره یو ځای دخپل هیواد افغانستان و ښکلي کندهارته راستون شو . ده دیوه هوښیار سیاستوال په توګه د ایران ګډوډ حالات ښه څیړلي وه او ددغه مناسب وخت نه دګټی اخیستلو په لټه کی شو , دقومونو دمشرانو سره د سلا مشورو وروسته په همدی کال د کندهار په شیرسرخ کی یوه لویه جرګه را وبلل شوه . د ځو ورځو خبرو اترپه پای کی د پیرصابرشاه په وړاندیزقومی مشرانو په یوه خوله دابدالي کورنی پیاوړي سپاه سالار , زړه ور جنګیالی او وتلی سیاستوال احمدخان خپل ټولواک ومنی .
د کوه نور نوی څښتن دپادشاه په توګه تر غوره کیدو وروسته دنوی افغانستان بنسټ کښیښود , د بخارا نه تر ډهلي او نیشاپور پوری ئی یوه ستره افغانی امپراتوری جوړه او دافغانانو برم یی یوار بیا نړی ته ورپیاد کړ . دهمدی ویاړنو او کارنامو پخاطر حق پیژندونکو افغانانو دی دلوی احمدشاه بابا پنامه و ویاړاوه .
په ۱۷۷۳ کال داحمد شاه بابا تر وفات وروسته کوه نور دتخت سره یوځای دهغه ځوی تیمورشاه ته چی افغانی پلازمینه یی دکندهار نه کابل ته نقل کړه , ورسید او دده تر مړینی وروسته کوه نور دده دځوی شاه زمان په برخه شو . تر یو لړ اوږدو سرګردانیو وروسته کوه نور د احمد شاه بابا او تیمورشاه د واکمنیو په ټولو اوږدو کی ځو لسیزی ارامی تیری کړی .
زمان میرزا ( شاه زمان ) سره ددی چی یو مدبر سړی اوټول وخت دافغانی امپراتوری دټینګښت او لا پیاوړتیا په فکر کی وو , خو دیولړ توطیو او دسیسو په پایله کی دخپل میرنی ورور شاه محمود لخوا په ۱۸۰۱ کال له واکه وغورځیدی او پداسی حال کی چی دکوه نور غمی ورسره وو , دقوتونو سره راټولو په موخه یی د پیښور په لور حرکت وکړ . په لاره کښی دیوه ځایی مخور ملا عشق الله پرکور میلمه شو . کوربه دافغانی سپیڅلو او منل شوو دودونو په خلاف هغه ددی پخاطر چی د شاه محمود نه امتیازونه ترلاسه کړی , شاه زمان یی دخپلو ورسره کسانو سره یو ځای په خپله قلعه کی بندی کړ او شاه محمود ته ئی خبر ولیږه . دشاه محمود سپاهیانو هغه کابل ته بوت او هلته دشاه محمود په امر په سترګو ړوند کړل شو .
شاه زمان په قلعه کی دبند پرمهال کوه نور دقلعه دیوه دیوال په درز کی پټ کړی وو . څه موده وروسته د زمان د سکه ورور شجاع الملک ( شاه شجاع ) قوتونو په ۱۸۰۳ کال شاه محمود له واکه وپرزاوه . شاه زمان میرزا خپل وروور ته دکوه نور د پټ ځای او دملاعاشق الله د ناروا کړنوپه اړه معلومات ورکړ . هغه ځانګړی ټولګی په دی موخه ولیږل او تر سخت لټون وروسته یی کوه نور وموند اود ملاعاشق الله سره یی یو ځای کابل ته راورسول . نوموړی چی افغانی دود یی دخپلو شخصی ګټو په هیله تر پښو لاندی کړی وو , دشاه شجاع په امر اعدام شو . ددی پیښي بشپړ څرنګوالی کاندید اکادمیسن محمد اعظم سیستاني پخپلي ( کینګ میکر افغانستان - وزیر فتح خان ) نومی مقالي کی داسی یاد کړیدی :
,, بعد ازجلوس شاه محمودبرتخت کابل،شاه عده ای سپاه برای تعقیب زمانشاه فرستاد . بین پیشدارسپاه شاه محمود وقوای زمانشاه درمحل "وچه پانه " جگده لگ تصادمی مختصر رخداد که نتیجه آن طبعاً به مفاد طرفداران شاه محمود تمام شد ونیروی های طرفدار زمانشاه به هر طرف فرارنمودند.زمانشاه با تنی چند از هواخواها ن سراسیمه پناگاهی می جستند. ملاعاشق شینواری که با وفادارخان سابقه آشنائی داشت درحوالی جگده لک، مالک قلعه یی بود. شاه بخت برگشته اکنون کارش بجای کشید که سراسیمه وپریشان مجبورشد برای گذرانیدن شبی به قلعه ملا عاشق پناه ببرد. ملاعاشق شینواری در اول با کمال خوشروئی ازمهمانش استقبال نمود،ولی وقتی شنید که شاه محمود برتخت کابل جلوس نموده ودر صدد دستگیری شاه زمان برآمده است، ترسید که مبادا فردا به جرم پناه دادن به شاه زمان مورد غضب شاه جدید قرارگیرد، لذا دروازه قلعه را از عقب بست وشب هنگام توسط پسرانش به شاه محمود پیغام داد که کس بفرستد ومحبوسش را تسلیم شود .


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

دیری نګذ شت که زمانشاه وهمراهانش دریافتند که درچنگ ملاعاشق محبوسی بیش نیستند. هرچندشاه زمان وهمراهانش کوشیدند تا وسیله یی برای نجات خود پیدا کنند، میسرنشد. آخرتن به تقدیر داده وبرای قبول هر پیش آمدی آماده نشستند. چون خبر این واقعه غیر مترقبه به کابل وبه پشاور رسید، از یکطرف شاه محمود برای دستگیری رقیب خود دست بکارشد واز جانب دیگر شاه شجاع برای نجات برادرش درصدد برآمد. از کابل نواب اسد خان برادر وزیرفتح خان با جراحی حرکت کرد واز جانب پشاورعبدالکریم خان برای نجات شاه محبوس روانه گردید.چون فاصله میان کابل وجگده لک کمتربود، نواب اسدخان پیشتر به قلعه رسید. زمانشاه مجموعه ای از جواهرات سلطنتی را که در آن الماس کوه نور نیزبود، همه را در سوراخ دیوار قلعه مخفی کرد وفخراج را به نهرابی که از کنار قلعه میګذشت پرتاب نمود. هنوز سپیده صبح ندمیده بود که نواب اسد خان به قلعه رسید وشاه را دستگیرنمود و جراح به حکم شاه محمود چشمان زمانشاه را کور کرد وبعد او وهمراهانش را محبوس به کابل آورد. شاه زمان در کابل به زندان رفت و وزیر او وبرادرش محمدخان حاکم کابل در عوض خون سردار پاینده خان اعدام شدند وزمانخان پوپلزائی به جرم قتل حاضرخان ، برادراکرم خان که درهرات به امر او اعدام شده بود، قصاص گردید.

این واقعه درماه جولای ۱۸۰۱ قید شده است . سه سال بعد (۱۸۰۳م) که دوره اول سلطنت شاه محمود به دست شاه شجاع برادرعینی زمانشاه خاتمه یافت، اولین کار شاه شجاع دادن جزا به ملاعاشق شینواری بود که احضارش کرد و به دارش آویخت والماس کوه نور بعد از این که مدتی در سوراخ دیوارقلعه ملاعاشق پنهان بود به دست شاه شجاع افتاد و قلعه منهدم شد ،، .

څه موده وروسته بیا شاه شجاع هم د وزیر فتح خان د ورونو په مرسته له واکه ولوید او شاه محمود دده میرنی ورور یوار بیا د دویم ځل لپاره دچارو واکی تر لاسه کړی .

د روسی سرچینو له مخی هغه دکوه نور دلاسته راوړلو پخاطر شاه شجاع بندی اوتر سختوشکنجو لاندی یی راوست . ده هر څه وزغمل خو دغمي دپټولو ځای یی ونښود ځکه دی پدی عقیده ووچی څو پوری غمی دده پلاس کی وی , بیرته قدرت ته رسیدلای شی . په پای کی دی په یوچل د زندان نه دتښتي لاره پیدا کوی او وځی . له زندانه دتښتي وروسته دکوه نور او نورو جواهراتو سره یو ځای خان لاهور ته رسوی .

رنجیت سینګ چی یو وخت دشاه شجاع ورور شاه زمان دخپلې امپراطوری پرمهال په پنجاب کی نائب مقرر او اوس ئی په افغانستان کی دکورنی بی اتفاقیو او ګډوډ حالت نه په ګټه اخیستلو ازاد دولت اعلان کړی وو , هغه ته پناه ورکوی . کله چی رنجیت سینګ د کوه نور نه خبریږی , غواړی چی ورڅخه یی ترلاسه کړی مګر شجاع الملک د ورکولو نه انکار کوی .

روسی سرچینې زیاتوي چی رنجیت دی اودده ټوله کورنې بندیان کوی او ډول ډول شکنجې ورکوی . دشجاع الملک میرمن دشکنجو طاقت نه راوړی او د رنجیت لخوا دیو لړ شرطونو په منلو سره کوه نور هغه ته ورکوی .په نوموړو سرچینو کی شرطونه داسی ښودل شوی دی : ,, دبند څخه ددوی دکورنی دټولو غړو خلاصون , ددوی د وروستي امنیت تضمین او دعمر ترپایه دوی ته د یو ټاکلي مناسب معاش ورکول ,, . ددی سره سم رنجیت سینګ دوی ټول له بنده خلاصوی او شاه شجاع ته ۱۲۵ زره روپی نقدی ورکوی او بیا یی دهرکال دپاره ٦۰ زره روپی معاش ورته وټاکي . ویل کیږی چی کله رنجیت سینګ دکوه نور غمی په خپل لاس کی ولید , نژدی وو چی له خوښی نه عقل د لاسه ورکړی .

په دی اړه کاندید اکادمیسن محمد اعظم سیستانی په خپل ( دونابغه سیاسی - نظامی افغانستان در قرن نزدهم ) نومی کتاب کی ( لومړی چاپ ۱۳۷۸ کال , ۷۹ مخ ) داسی لیکی چی شاه شجاع د ماتې خوړلو نه څو کاله ور وسته په پیښور کی د کشمیر د والی عطامحمدخان بامیزایی په توطیه ونیول شو او په کشمیر کی بندی شو . کله چی د وزیر فتح خان لښکری کشمیرته راغلي , شاه شجاع له بنده ووت او لاهورته ولاړ . هلته بیا په لاهور کی رنجیت سینګ ددی پخاطر دی تر فشار لاندی ونیو چی د کوه نور غمی تری نه واخلي . شاه شجاع دا ونه منل , رنجیت هغه په مرګ تهدید او دده ماشوم زوی شاهزاده تیمور یی تر سختو شکنجو لاندی راوست . رنجیت پرته له دی نه دتطمیع کولونه هم کار واخیست او ده ته یی وعدی ورکړی چی دغمي په بدل کی به دی دپنجاب جاګیر وټاکی او وروسته به د کابل دتخت اوتاج په بیرته نیولو کی هم مرسته ورسره وکړی . پدی توګه رنجیت دشاه شجاع نه غمی تر لاسه او دی یی د نیم اسیر په ډول په لاهور کی وساته . وروسته رنجیت سینګ خبر شو چی شاه شجاع د ځینو تجارانو سره یو مقدار نور جواهرات , ګران بیه شیان او پیسي هم ساتلي دی او پدی لټه کی شو چی هغه هم تری نه واخلي . خو شجاع یی له تصمیم نه خبریږی , لومړی خپله کورنی د لاهور نه لودهیانی ته استوی او بیا پخپله هم دیوه هندو جوګی په جامو کی د لاهوره تښتي , دکشمیر او تبت دلاری نه ځان لودهیانی ته رسوی او هلته دخپلي کورنی سره یو ځای کیږی .



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

پنجابی پړاو او دکوه نور نه درنجیت سینګ بیزاری :

پدی توګه کوه نور بیرته دهند نیمې وچې ته راغی او داخل په پنجاب کي میشت شو . کله چې رنجیت کوه نور پلاس راوړ , نو یی دخپل واک وټینګښت او پراخولو ته ملا وتړل , ټول پنجاب یی سره متحد او دیوه پیاوړی اردو پربنسټ یی غښتلې دولت جوړ کړ . وروسته پدی فکر کی ولوید چی هند باید نور دانګریزانو له اغیزی نه خلاص کړی . داچی دی په سیاست پوه یو مدبر سړیۍ وو , پدی پوه شو چې دانګریزی زورور توان سره ډغرې وهل ورته اسانه خبره نده ځکه نو په اوس مهال کی لدی پلان نه تیرشو . رنجیت سینګ دنورو واکدارانو په خلاف دځان سره دکوه نور پر خونړې تاریخ باندی فکر وکړ , ددی غمې د نژدی ټولو ښتنتانو شوم سرنوشت یی له نظره تیر کړ او د لومړیۍ کس په توګه دی و دی پایلې ته ورسید چی دا غمیۍ د واکمنیو مور نه بلکه د بد مرغیو زیږونکې یوه ډبره ده . لدی پایلې اخیستنې وروسته یی تصمیم ونیو چی لدی غملړلې ډبری نه ځان خلاص کړی . پدی موخه یی وپتییل چی دکوه نور غمیۍ دخپل ځان لخوا معبد ته دسوغات په توګه وسپاری . خو وړاندی لدی نه چی دا پلان سرته ورسوی , ژوند نوره یاری ورسره ونکړه او مړشو . دده ځای ناستې اخلاف دده پدی پلان باندی خبر نه وه او ده هم وصیت نه وو کړی چی دوی داکار پای رسولې وای .
که څه هم دده تر مړنې وروسته په پنجاب کی یو لړ انارشی او ګډ وډی منځته راغلې وه خو دده ځای ناستې کسان چی دانګریزانو داغیزی څخه د هند دخلاصون په اړه دده دپلانه خبر وه او پدی نه وه خبره چی اوس مهال ده دافکر له خیاله ایستلې دی , و یی غوښته چی دده دا ارمان تر سره کړی . د ځینو لنډ مهاله بریاوو سره سره په پای کی دده پلاس جوړ شوې غښتلیۍ اردو دانګریزانو لخوا چی په یوه لاس کی یی توره ګرځول او په بل کی پیسې , دړی وړی او له منځه ولاړ . د نوی بریالې ښتن په راتلو سره کوه نور هم د تل پشان د ماتې خوړلې عاشق نه مخ اړوی او دغښتلې مین په غیږ کی لویږی .

د دریمی برخی پای .

پاته برخه چی دکوه نور وروستیۍ پیښی او دهغه بیا حلالول دی , مه هیروې .


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de